# اسلام: دا دی چې ګواهي ورکړې پردې چې له الله پرته بل معبود نشته او پر دې چې محمد - صلی الله علیه و سلم - د الله رسول دی، لمونځ قائم کړې، زکات ورکړې، د رمضان روژه ونیسې او د بیت الله حج وکړې -که د رسېدو لاره دې ورته ومونده

له عمر بن الخطاب رضي الله عنه څخه روايت دی وايي: مونږ يوه ورځ له رسول الله صلی الله علیه وسلم سره ناست وو، چې ناڅاپه يو سړی را ښکاره شو، سپينې جامې يې پر تن وې، تک تور وېښتان يې و، د سفر کومه نخښه پرې نه ښکارېده او له موږ څخه هېڅا هم نه پېژانده، تر دې چې رسول الله - صلی الله علیه وسلم - ته کېناست، نو خپل زنګنونه يې د هغه زنګنونو ته ورتکيه کړل او لاسونه يې پر ورنونو ورکېښودل، او ورته يې وويل: اې محمده! ماته د اسلام په اړه خبر راکړه، رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمايل: «اسلام: دا دی چې ګواهي ورکړې پردې چې له الله پرته بل معبود نشته او پر دې چې محمد - صلی الله علیه و سلم - د الله رسول دی، لمونځ قائم کړې، زکات ورکړې، د رمضان روژه ونيسې او د بيت الله حج وکړې -که د رسېدو لاره دې ورته ومونده»-. وېې ويل: "ته رښتيا وايې". نو مونږ حيران شو چې هم پوښتنه کوي او هم يې تصديقوي، (بيا يې) وويل: ما ته د ايمان په اړه خبر راکړه" هغه وويل: " دا چې په الله، د هغه په ملايکو، د هغه په کتابونو، د هغه په رسولانو او د آخرت په ورځ ايمان راوړې، او د خير او شر په تقدير باور ولرې؛ " هغه وويل: "رښتيا دې وويل". وېې فرمايل: "د احسان په اړه خبر راکړه ." هغه وويل: "دا چې د الله تعالی عبادت پداسې توګه وکړې لکه چې ته هغه وينې، خو که چېرته يې ته نه وينې نو هغه خو تا وينې". وېې وييل: ماته د قيامت په اړه خبر راکړه، وېې فرمايل: پوښتل شوی له پوښتونکې څخه ډېر پوه ندی، هغه وويل: له نخښانو څخه يې خبر راکړه". وېې وييل: "دا چې وينځه خپل بادار وزيږوي، او دا چې ته وګورې چې پښې ابله (لوڅ پښې)، بربنډ ، محتاج ، شپانه يو له بل څخه په ابادیو کې وړاندیوالی کوي". بيا هغه روان شو، نو ما يو څه وخت انتظار وکړ، بيا يې وويل: "اې عمره! آيا ته پوهيږې چې پوښتونکی څوک و؟، ما وويل: الله او د هغه رسول ښه پوهيږي، وېې فرمايل: دا جبريل و، هغه تاسو ته راغلی و تر څو مو دين درووښايي».

[صحيح دی] [مسلم روايت کړی دی]

عمر بن الخطاب رضي الله عنه فرمايي چې جبرائيل عليه السلام صحابه کرامو ته د يو نا پېژندل شوي سړي په شکل ورغی، هغه پداسې بڼه و چې جامې يې تکې سپينې وې او وېښتان يې تک تور و، د سفر کومې نخښې پرې نه ښکارېدې لکه سترتيا، دوړې، ګډوډ وېښتان، د کاليو خبرنوالی، او په حاضرو کسانو کې هېچا نه پېژانده، حال دا چې دوی ټول د رسول الله صلی الله عليه وسلم سره ناست وو، نو هغه د رسول الله صلی الله عليه وسلم په حضور کې د يوه زده کوونکي په بڼه کېناست او د اسلام په اړه يې ترې پوښتنه وکړه، نو هغه د اسلام پدې ارکانو سره ځواب ورکړ چې په دوو شهادتينو اقرار، پنځه وخته لمونځونو ادا کولو، مستحقو کسانو ته زکات ورکولو، د رمضان مياشتې روژې نيولو او پر توانمند د حج ادا کولو ته شامل و. پوښتونکي وويل: رښتيا دې وويل، نو صحابه کرام د هغه له پوښتنې کولو څخه حيران شول چې د هغه ناپوهي يې ښودله او بيا يې بيرته - ځواب ـ تصديقاوه. بيا يې ترې د ايمان په اړه پوښتنه وکړه، نو هغه د ايمان پدې ارکانو سره ځواب ورکړ چې د الله تعالی په وجود او د هغه پر صفاتو ايمان، هغه لره د هغه په افعالو کې په يووالي ايمان لکه: پيدا کول، هغه لره په عبادت سره يو ګڼل، او دا چې ملائکې الله جل جلاله له رڼا څخه پيدا کړي دي او هغو د - الله تعالی - عزتمند بندګان دي چې د الله پاک د حکم نافرماني نه

کوي، د هغه امر پر ځای کوي، او د هغه پر کتابونو ایمان چې د هغه لخوا پر رسولانو نازل شوي دي لکه: قرآن، تورات، انجیل او نور، او په هغو پیغمبرانو ایمان چې د هغه له طرفه یې دین خلکو ته رسوي، د هغوی له جملې څخه نوح، ابراهیم، موسی، عیسی او نور پیغمبران علیهم السلام دي چې وروستی یې محمد صلی الله علیه وسلم دی، او د آخرت په ورځ ایمان، چې له مرګ نه وروسته قبر او برزخي ژوند ته شامليږي، او دا چې انسان له مرګ نه وروسته ژوندی کیږي او حساب ورسره کیږي، او دا چې برخلیک به یې جنت او یا دوزخ وي، او پر دې ایمان چې الله تعالی د خپل مخکیني علم، حکمت او لیکنې پر بنیاد ټول شیان اندازه کړي دي، او دا چې دا هر څه د هغه د خوښې او تقدیر سره سم کیږي او دا چې دا هر څه یې د کومې موخې لپاره پیدا کړي دي. بیا یې ترې د احسان په اړه پوښتنه وکړه، نو هغه خبر ورکړ چې احسان دې ته وایي چې پداسې توګه د الله تعالی عبادت وکړي لکه چې الله ویني، خو که چېرته ورته دې مرتبې ته رسېدل ناشوني وي، نو بیا دې د الله تعالی داسې عبادت وکړي لکه چې الله یې ویني، نو لومړ د لېدو مرتبه ده چې تر ټولو لوړه ده او دویمه د څار مرتبه. بیا یې ترې پوښتنه وکړه چې قیامت کله دی؟ نو رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته بیان کړه چې د قیامت په اړه پوهې باندې الله تعالی ځان ځانګړی کړی دی، نو د هغه له مخلوقاتو څخه پرې هېڅوک نه پوهيږي، نه پوښتل شوی او نه پوښتونکی. بیا یې ترې د قیامت د نخښانو په اړه پوښتنه وکړه؟ نو ورته یې واضحه کړه چې له نخښانو څخه یې د وینځو زیاتوالی او د هغوی د اولادونو زیږون دی، او یا د اولادونو لخوا د مورګانو نافرماني، چې لکه د وینځو په څېر رویه به ورسره کوي او دا چې د مېږو په شپنو او غریبانو باندې به په وروست زمانه کې د مال دومره پراخي راشي چې د ودانیو په سینګار او جوړولو کې به یو پر بل وياړي. بیا رسول الله صلی الله علیه وسلم خبر ورکړ چې سوال کوونکی جبرائیل علیه السلام و او د دې لپاره راغلی و چې صحابه کرامو ته حقیقي دین ورزده کړي.

https://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/4563